# ناټو يو صليبي اېتلاف دی



**خبر:**

«د ناټو د غړو هېوادونو د جدول د سر هېوادونو د پوځي تمرينانو په جريان کې چې د ناروې هېواد په ګډ جنګي مرکز کې د ۲۰۱۷کال درې سرې خنجر تر نامه لاندې تر سره شول او پکې زموږ د رهبر او زموږ د جمهوريت بنسټ اېښودونکې د مجسمې انځور د دروغجنو مخالفو هېوادونو د مشرانو په منځ کې وښودل شو. پر دې سربېره د ترلي مدار د پيغام رسولو په سيستم کې زموږ د ولسمشر په نوم جعلي اکونټ جوړ شوی او هڅه شوې، چې ترکيه له دښمنو هېوادنو سره د همکار په بڼه وښيي. زموږ په اند دا کار د اندښنې وړ، غير اخلاقي او د منلو نه دی».(د بهرنيو چارو وزارت)

له دغې پېښې وروسته ترکيې فورا خپل سرتېرې را وباسل، په داسې حال کې چې دغه پېښه په ډيپلوماتيکو لارو وغندل شوه او ناټو هم بښنه وغوښته.

**تبصره:**

ترکيه د اسلامي خاورو په هېوادونو کې يوازينی هېواد دی، چې له دغه صليبي اېتلاف سره، چې بنسټ اېښودنکې يې امريکا او کافر غربي دولتونه دي يو ځای شوی دی. د ناټو بنسټ په ۱۹۴۹م کې کېښودل شو او ترکيه په

۱۹۵۲کې له هغې وروسته، چې د هغه وخت لومړي وزير عدنان منديريس، د ملګرو ملتونو په غوښتنه يوه ډله سرتېري د کوريا جګړې ته ولېږل، ورسره يو ځای شوه. په دغې جګړه کې ۷۴۱ تنه سرتېرې ووژل شول او له ۲۰۰۰زيات ټپيان شول. ناټو په افغانستان، پاکستان، بوسنيا، هرزګوينا، منځني ختيځ، افريقا او په دې وروستيو کې په ليبيا کې د زرګونو مسلمانانو په وژنه کې فعاله ونډه درلوده....د کوريا پر جګړې سربېره؛ ترکيه په افغانستان کې له ايساف او په بوسنيا کې له سوله ساتو ځواکونو سره يو ځای شوه او په نورو سيمو کې يې هم پوځي ملاتړ وکړ. په دې وروستيو کې يې په ليبيا کې د ناټو له هوايي بريدونو ملاتړ وکړ، چې د مديترانې له لارې ورشي او په ازمير کې يې هوايي هډې پرانېزي.

د ناټو خونړی تاريخ دا ښيي، چې دغه شيطاني ائتلاف صليبي ائتلاف دی. نو ولې ترکيه خپل سرتېري، چې په نورو هېوادونو کې د ناټو خدمت کوي، له دغه ائتلافه نه باسي؛ لکه څنګه چې په دغه پېښه کې يې وايستل؟ ايا هغه ۲۸ پېژندل شوي نظامي سيمې چې په سر کې يې انکرليک، افيان او ازمير دي، او نورې ډېرې نا پېژندل شوې نظامي سيمې د دغه شيطاني ائتلاف د تحريک د مرکز په توګه پاتې شي؟ ولې د دغو اشغالګرو پوځيانو اډې او بندرونه نه تړل کېږي؟

د ناټو موخه د اسلام له منځه وړل دي. دغه موخه د انګلستان د وخت لومړي وزير، تاچر په خپلو خبرو کې څرګنده کړه، چې په ۱۹۹۰ کې يې د ناټو په سرمنشيزه غونډه کې وکړې: « شوروي اتحاد له منځه لاړ. موږ نور کوم دښمن نه لرو؛ خو هېڅ ايديولوژی له دښمن پرته ژوندی نشی پاتې کېدی، نو بايد يو نوی دښمن پيدا کړو، اړتيا نشته چې ورپسې وګرځو. زموږ نوی دښمن اسلام دی. » بيا د ۲۰۱۵م کال په ډسمبر کې د ناټو عمومي منشي، جينز سټولټينبرګ دغه ويينا: « ... موږ نشو کولای د دوی(مسلمانانو) لپاره دغه جګړه مخته يوسو.»، يو ځل بيا دا ښيي چې دغه ائتلاف د مسلمانانو ځمکې د اډو په توګه کاروي او د مسلمانانو لپاره به هېڅکله مثبت ګام وانخلي.

نو اې مشرانو! ولې همدا ډول غبرګون چې د ځان او رهبر لپاره مو وښود، د اسلام لپاره نه ښيئ؟ ايا تاسو ته ځانونه او هغه، چې د رهبر په توګه يې احترام لرئ؛ تر اسلام ګران دي؟ ايا تاسو نه شئ کولای له ٦٠کالو راهيسې د ناټو ظلم، عام وژنې او ښارونو ويجاړول ووينئ، په داسې حال کې چې د دوی په عمالو کې تاسو ورسره شريک ياست؟ که يې وينئ! نو ولې ورسره يو ځای ياست؟ ايا تاسو به له دغه شيطاني ائتلاف سره همداسې يو ځای پاتې شئ؟ دغه خاورې د مسلمانانو په وينو فتح شوي. تر کومه به د دغه شيطاني ائتلاف پر وړاندې ستاسو اډې پرانيستې وي؟ ايا تاسو به د ناټو د لګښتونو لپاره د هغې درنې مالي لګولو ته دوام ورکړئ، چې له خپلو ښوزلو

خلکو څخه یې راټولوئ ؟ په یاد مو وي، چې رب مو خبرداری درکوي، چې د هغو خبره مه منئ چې شیطاني کارونه کوي، هسې نه چې د دوزخ د اور سونتوکي شئ! د دغه کار لامل به تاسو پخپله نه یاست؟ نو اصلاح شئ، ناټو، ملګري ملتونه او ټول شیطاني ایتلافونه پرېږدئ او د راشده خلیفه تر رهبرۍ لاندې د امت د وحدت لپاره کار وکړئ، څرنګه چې د الله سبحانه و تعالی خوښه ده.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: موسی بای اوغلو**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الاول ۸مه**

**۲۰۱۷م، د نومبر ۲۶مه**

**ژباړن: عبادالله**